# د صحرا زمری



## د عمر مختار د ژوند کیسي

لیکوال: ابو شاکر مسلم

Ketabton.com

ژباړن: روح الله سعادت

۱۴۰۳_ هـ_ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : د عمر مختار داستانونه

موضوع : د شهید عمر مختار ژوند لیک

لیکوال : ابوشاکر مسلم

ژباړن : روح الله سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهدا

**ګراني مور جاني ته چي زه يي د ژوند په هره شيبه کي يوازي نه يم پريښودی، او خپل مهربانه سيوری يی راباندي لورولی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


د عمر مختار زوکړه او ښوونکي يي .................................... ۶

د عمر مختار اخلاقي ځانګړتياوي........................................ ۸

عبادت او د قرآن کريم تلاوت............................................. ۹

شجاعت او سخاوت.................................................. ۱۰

د استعمار دوره او د مبارزي پيل........................................ ۱۱

د ايټاليايانو جنګ له عثمانيانو سره....................................... ۱۲

د عمر مختار مهم جنګونه.............................................. ۱۳

چريکي جګړي ته مخه................................................ ۱۴

د عمر مختار اسارت.................................................. ۱۴

عمر مختار په زندان کي................................................ ۱۵

د عمر مختار زندان................................................... ۱۵

د محکمي د حکم تصويرونه............................................ ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دار لرګی........................................................ ۱۸
د عمر مختار مقام.................................................... ۲۰
د صحرا د زمري عمر مختار په زړه پوري داستانونه
اول داستان: له ایټالیایانو سره مبارزه کافي ده قرآن مه وایه........ ۲۲
دوه یم داستان: ای عمره ولي دومره ژاړې.......................... ۲۲
دریم داستان: د عمر مختار او جلاد داستان.......................... ۲۳
ځلورم داستان: موږ اسیران نه وژنو.................................. ۲۴
پنځم داستان: وروستۍ خبري د څّه دي............................. ۲۴
شپږم داستان: عمر مختار او ایټالیایي عسکر........................ ۲۵
اووم داستان: د عنمر مختار خبري اتري له طاغوتي افسر سره.... ۲۵
اتم داستان: ایټالیا الوتکي لري او موږ یي نلرو...................... ۲۷
نهم داستان: دا ګوته هیڅ کله...................................... ۲۸
لسم داستان: د قاضي پوښتنې له عمر مختار څخه.................... ۲۸
د عمر مختار طلایي خبري........................................... ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر مختار زوکړه، د ماشومتوب دوره او ښوونکي

**شیخ (علي صلابي) مشهور لیبایي لیکوال چي ډېر خدمتونه یي د تاریخ برخه کي کړي دي، د عمر مختار اړوند داسي زیاتوي.**

**(عمر بن مختار بن عمر المنفي الهلالي) پیژندل شوی په عمر مختار او لقب یي شیخ شهدا او شیخ مجاهدین او د صحرا زمری د عربي او اسلامی نړۍ یو له پیژندل شویو او پیاوړیو کسانو څخه وو په کال ۲۰ اګسټ ۱۸۶۲ میلادي یا هم ۱۸۵۸ په یوه دینداره کورنۍ، په جنزور کلي بطان د استان توابع برقه په جبل الاخضر یا په شین غره کي دي نړۍ ته سترکي غړولي دي.**

**پلار یي مختار بن عمر د منفه له قبیلي د فرحات له خاندان څخه وو، چي په غیرت او لوړو اخلاقو مشهور وو، په همدي دلیل په هماغه کال کي چي د عمر تربیت یي په غاړه وو هغه یي د سنوسیه اسلامي حزب چي قران او سنت ته ژمن  وو تعلیم حاصل کړ.**

**پلار یي د حج د مراسمو د ادایني په موخه د حج په سفرکي وو چي وفات سو.**

**اما مخکي له وفات څخه یي خپل ملکري احمد غریاني د شیخ ورور په زاویه سیمه کي وصیت کوي**

**چي خپل ورور ته یی ورسوي چي د دوو زامنو عمر او محمد مسولیت په غاړه واخلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احمد غرياني د عمر مختار وصيت د هغه ورور شيخ حسين بن عمر ته ورسولو شيخ يوه لحظه هم د خپل ورور له وصيت څخه غافل نشو، نو د عمر او محمد تربيه يې خپلو لاسونو كي واخستله او دوى دواړه ورونه يي د ښار يه دار القران (زاويه) كي شامل كړل تر څو چي وروسته عمر مختار د تحصيل له پاره د خپلو ترو زامنو سره د الجغوبي تحصيلي مركز ته ولاړ.**

**عمر مختار په واړه عمر كي د خپلو استنادانو توجه ځان ته جلب كړه، هغه داسى يتيم وو چي خلک به يي د قرآن كريم تلاوت را بلل او له يتيمانو سره به يي ښه چلند ته تشويقول تر څو د دوي له ژوند څخه ترخي شيبي كمي شي.**

**عمر مختار لا د كوچني والي په پړاو كي وو چي نابغه توب او لوى استعداد يي څرګند شو او د دي سبب شو چى د خپلو استادانو توجه ځان ته جلب كړي، د جغبوب مركز ډير كسان وروزل او د اسلام دين يي نورو ته هم ورسولو،**

**د جغبوب تعليمي مركز زده كووني وروسته له څو كاله تعليم څخه د ليبيا او افريقا مختلفو سيمو ته د تبليغ لپاه ولاړل تر څو تور خلک هم اسلامي تربيه تر لاسه كړي.**

**عمر مختار اته كاله په جغبوب مركز كي تير كړل او مختلف قسمه ديني علوم لكه فقه، حديث او تفسير ياد كړل.**

**د ده مشهور استادان هر يو شيخ زورالي مغربي، شيخ سعيد جواني، شيخ اعلامه فالح بن محمد بن عبد الله او نور وو دوي ټولو د عمر مختار په پوهه او اسلامي دعوت اقرار كاوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عمر مختار په خپلو مسولیتونو کي ځیرک او دقیق وو او له دي امله په جدیت، استقامت، او صبر کي مشهور وو .**

**عمر مختار د ځواني په پړاو کي وو چي د خپلي سیمي له محیط او آب هوا باندي ښه پوهه وو ډیر زیات علم یی درلود ، د قبیلو به متحد کولو د صحراییي او بیاباني لارو کی بلدیا د مختلفو بوټو نویعت او خواص یی یي زده وو.**

**هغه د هری قبیلي او قوم ځانګړتیاوي پیژندلي.**

**«««»»»**

## د عمر مختار اخلاقی خانګړتیاوي

**عمر مختار متوسط قد مخ په لوړ والي درلورد نه ډیر چاق او نه ډیر ډنګر ، نیولی غږ، بیاباني لهجه،**

**استوار فساحت یی درلود خبري یی پیوسته وي او ملال آوز نه وو، د خبرو کولو په وخت کي یی د موسکا په وجه مخکني غاښونه ښکاریدل،**

**ښکلي اخلاق یی لرل با وقاره او په کارونو کي جدي وو.**

**«««»»»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبادت او تلاوت د قرآن کریم

عمر مختار د لمانځه په ادا کولو او په وخت سره یی دیر بابند وو، او روزانه يي قران تلاوت کولو،

هغه په اونۍ کي یو ځل قران ختم کولو،

قران ته همیشه توجه کول، د ایمان قوه د عمر مختار په زړه کي ځای درلود د دي قوي ایمان برکت وو چي ښه صفتونه لکه امانت داري، شجاعت، ریښتنولي، له ظلم سره مبارزه، عاجزي او اطاعت په عمر مختار کي ځای درلود.

ده به همیشه د الله ج قوانین عملي کول او د سهار په لمانځه پابند وو، او بغیر له لمانځه به هم په اوداسه وو، یو روایت کي راځي ، کله چي د السنوسیه حزب سره یو ځای شوم په یاد مي ندي چي کوم مشر د پرته له اوداسه څخه وي.

محمود الجهمیر یو له مجاهدینو، د عمر مختار په خپلو خاطرو کي لیکي، ما به دي عمر مختار سره ډوډۍ خوړله یو ځای به پریوتو په یاد يي نلرم چي هغه د ټوله شپه ویده وي اغلب زیات له ۲ تر ۳ ساعته څخه زیات نه ویده کیدو او ټوله شپه به يي په تلاوت سبا کوله له الله ج څخه زیات ویریدی هغه په ټوله معني یو مجاهد وو.

محمد طیب اشهب هم ورته زکر کوي چي عمر مختار به د شپي ډیر تلاوت کولو او زیاتوي یو له هغو دلایلو چي عمر مختار د ژوند په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروستيو سختتو آخري شيبو کي پري ممتاز وو له قران سره مينه او د قرآن تطبيق وو ځکه قرآن د استقامت او هدايت لويه منبع ده عمر مختار له قران کريم سره زياته مينه درلوده وايي چي کله د دار تختي ته روان وو دا ايت يي تلاوت کولو**

**(يا ايتها النفس المطمئنه ارجعی الی ربک راضيه مرضيه)**

**«««»»»**

## شجاعت او سخاوت

**شجاعت او سخاوت دوه ښه خويونه له زلمی توبه په عمر مختار کي وو، په ۱۸۹۵ ميلادي کال کي عمر مختار له يو هيَت سره چي پکښي محمد مهدي السنوسي دوه يم مشر د دي حزب سوډان هيواد ته سفر وکړ، د سفر په دوران کي د سفر خلک په سيمه کي د يوه وړي زمري سره مخ کيږي چي سخت تري ويريږي ځينو يي وويل چي زمري ته به يو اوښ حلال کړو، عمر مختار دا وړانديز رد کړ او ويي ويل موږ انسان ته باج نه ورکوو پاته شوه د يوه حيوان کيسه او وې ويل چي دا بيغيرتي ده، کله چی قافله د زمري ځای ته ورسيده نو زمري پري حمله وکړه نو بعضي کسان دي ته حاضر شول تر څو اوښ ورته حلال کړي خو عمر مختار په خپل يوناني ټوپک ډز پري وکړ له څو ډزو وروسته هغه زمری مړ شو او پوست يي تري وويست او په لاره کي يي ځوړند کړ د عبرت لپآره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته مهدي السنوسي په کال ۱۸۹۷ میلادي کي عمر مختار يي د زاويه القصور سيمي چي په جبل الاخضر کي موقيعت لري د دي منطقي شيخ يي مقرر کړ او د دي سيمي بغاوتونه يي غلي کړل او په سيدي عمر لقب ونومول شو چي د ډيرو ستر خلکو په نصيبب کيږي.**

**«««»»»**

## د استعمار دوران او د مبارزي پيل

**په حقيقت کي د شجاعت ځانګړتياوي په عمر مختار کي په چاد کي د فرانسويانو او په ليبي کي د ايټاليا په وړاندي په جګړو کي ځرګندي شوي.**

**کله چي د فرانسي استعمار په کال ۱۹۰۰ میلادي د چاد هيواد باندي حمله وکړه د السنسويه حزب يو له هغو حزبونو څخه وو چي د استعمار په وړاندي جنګيدل.**

**په کال ۱۹۰۲ میلادي کي د السنوسيه حزب مشر محمد السنوسي وفات شو، د حزب رهبران له ده څخه وغوښتل چي برقه ته واپس ولاړ شي، وروسته له راتګ څخه يي بيا ځلي د شيخ منظقي (زاويه القصور) وټاکل شو، هغه دومره بريالی وو په خپل کار کي چي د عثمانيانو له خوا يي ډير درنښت هم وشو او دا زحمتونه د دي سبب شول تر څو د اتو کلنو لپاره تر ۱۹۱۱ میلادي پوري په دي دنده پاتي شي او په دي دوران کي يي د انګليسي فوځ په وړاندي د مصر او ليبي په پولو او البرديه او السلوم او مساعد سيمو کي يي بر حاله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مبارزه کوله او السلوم جګړه په ۱۹۰۸ میلادي کي مشهوره وه چي د السلوم ښارکوټی د انګلیس یانو په تصرف پای ته ورسیده.**

**«««»»»**

## د ایټالیایانو جګړه له عثمانیانو سره

**په کال ۱۹۱۱ میلادي کي ایټالیایانو عثمانیانو ته د جګړي اعلان ورکړ، او خپل ځواکونه یي د بنغازي د برقي شمالي ساحلي ښار ته ولیږل، په دي وخت کي عمر مختار په کفره د صحرا په زړه کي د سینوسیانو لیدلو ته ورغلی وو په بیرته تلو کي د بنغازي له اشغال څخه خبر شو، وروسته په ډیره چټکتیا سره زاویه القصور ته ستون شو او یو زر کسان یی د خپلي فبیلي څخه د ایټالیایانو د مقابلي ته تیار کړل.**

**په لومړي ځل عمر مختار خپل ځان ته نظامي معسکر جوړ کړ په الخروبه سیمه کي، وروسته یي معسکر الرجمه سیمي ته منتقل کړ او وروسته له عثماني ځواکونو سره په بنینه په ۲۰ کیلومتري د بنغازي جنوب کي یو ځای شو.**

**په ۱۹۱۲ کال کي چي په بالکان کي جګړه شروع شوه، عثماني دولت له ایټالیایانو سره په سوله مجبور شواو عثماني ځواکونه په شاتګ ته مجبور شول چي برقه سیمه هم په کي شامل وه، لیبیایي ځواکونه له دي اقدام څخه نا خوښ وو او د عثماني ځواکونو په وړاندي ودریدل او د دواړه لوریو ترمنځ سخته نښته رامنځ ته شوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي ډېر تلفات يي له دواړه لوريو لرل په همدي دليل عمر مختار مجبور شو چي دا نښته ودروي او تر ۱۹۱۳ ميلادي كال پوري د برقه ځواكونو د قوماندي له پاره ولاړ او وروسته احمد الشريف السنوسي يي قومندان كړ او عمر مختار د معاونيت سيمي ته ولاړ.**

**«««»»»**

## د عمر مختار مهمي جګړي

**يو له مهمو جګړو چي عمر مختار له ايټالياياڼو سره كړي وي په ۱۹۱۳ ميلادي كال كي درنه سيمي كي چي دوه ورځي يي دوام وكړ وه، او پكي ۷۰ ايټاليايي عسكر مړه او ۴۰۰ نور زخميان شول.**

**همدا راز په همدي كال كي د بوشمال جګړه په عين ماره سيمه كي په ۱۹۱۴ ميلادي كال كي وروسته له ام شخنب او شلظيمه او الزويتيه او الرحيبه جګړو كي دوام وكړ چي په ټولو جګړو كي عمر مختار حضور درلود او د سيمي خلك يي جګړو ته هڅول.**

**«««»»»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چريکي جګړو پيل

په ۱۹۲۳ ميلادي کال کي څه وخت چي طرابلس د ليبيا پايتخت د ايټاليايانو لاسو کي سقوط شو عمر مختار د برقه مجاهدينو په قومانده چريکي جګړي پيل کړي،

ده به هر ځل له ۱۰۰ تر ۳۰۰ کسانو سره په ايټالايي عسکرو بريدونه کول او چي ډير تلفات به يي ور واړول بيرته به وکرځيد او دي جګړي ۲۲ کاله دوام وکړ.

په دي موده کي عمر مختار يو نظامي معسکر د مجاهدينو د روزني لپاره جوړ کړی وو په جبل الاخضر سيمه کي چي د دي معسکر مشري د ده په لاس کي وه.

«««»»»

## د عمر مختار اسارت

په ۱۹۳۰ ميلادي کال په اکتوبر مياشت کي ايټاليايي عسکرو وروسته له اوږدي جګړي څخه د عمر مختار عينکي او آس ونيول،

په ۱۱ د سپتامبر ۱۹۳۱ ميلادي کي عمر مختار د خپلو کم شمير ملګرو سره د ضريح (رويفع بن ثابت) مشهور صحابي په البيضا ښار کي زيارت ته تللی وو چي ايټاليايي عسکرو تعقيب کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عمر مختار له پیدا کولو وروسته د ده له ملګرو سره په عین اللفو په سیمه کې جګړه وکړه د عمر مختار آس زخمي شو او په ځمکه ولوید  تر څو چې ونیول شو.**

**«««»»»**

## عمر مختار په زندان کې

**عمر مختار وروسته له اسارت څخه بنغازي ته منتقل شو او  هلته هیڅ یو خبریال ته د ده سره د لیدلو اجازه نه وه.**

**وروسته په کوچني خونه کې لرې له بندیانو څخه له شدید محافظت لاندې ساتل کیده، ابراهیم سالم عامر د برقه آرام کتاب ژباړن د عمر مختار اسارت باره کې لیکي د عمر مختار په خونه کې یو د لرګي تخت او یو زوړ فرش وو.**

**«««»»»**

## د عمر مختار محکمه

**د مازدیګر په ۵ بجو د سپتمبر په ۱۵ د ۱۹۳۱ میلادي کال عمر مختار یې د برقه پارلمان  محکمې ته حاضر کړ او د محکمې پریکړه دا وه چې عمر مختار دې اعدام شي، عمر مختار د محکمې په ځای کې داسې اغیز لرونکې خبرې کولې چې د ژباړن په سترګو کې اوښکې راغلې، نو یو یهودي ژباړن یې ورته راووست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته د محكمي له پريكړي څخه وروسته يو ځوان افسر چي روبرتو لونتانو په دي حكم باندي اعتراض وكړ او دا پريكړه يي ضالمانه وبلله  او وي غوښتل ترڅو ورته د اعدام پر ځاى ابدي حبس واوروي، محكمي د ده خبري بابيضه واچولي او دى يي د عمر مختار په پلوي تورن كړ، اما ده وويل چي ټول پوهيږو چي عمر مختار د دين او وطن په دفاع كي محكمه كيږي او دا يو ښكاره حقيقت دى،**

**دى د دي خاوري يو بچى دي او طبيعي ده چي له خپلي خاوري به دفاع كوي د اشغال ګرانو په وړاندي به جنګيږي، اما د دي افسر دفاع فايده ونه كړه او عمر مختار يي په اعدام محكوم كړ او عمر مختار په دي جمله اكتفا كوله فيصله يوازي د الله ج له لوري ده .**

**«««»»»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عمر مختار د محکمې تصویرونه



بريد برقة

BERID BARCA

BENGASI

القبض على عمر المختار زعيم العصاة فى برقة

البلاغ الرسمي

الجريدة تصف عمر المختار بأنه زعيم العصاة



المفتي يستقبل موسوليني ويصف المجاهدين بالخوارج

د عمر مختار د شورشيانو مشر نيول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا هغه ليکنه ده چي برید برقه مجلي د لیبیا د عمر مختار د نیولو وروسته لیکلي ده، چي په پورته تصویر کي لیدل کیږي، چي د دي هیواد مفتي له موسیلیني اشغالګرو خوشحاله دي.**

**ډیر د تعجب ځای دی له تیر ځخه تر نن پوري همیشه خاینې رسنۍ او افراد شته، دغه امت ډیر کلونه کیږی چي د خیانت درد تحمل کوي، دا درد خصوصا په سوریه، فلسطین، او یمن کي زیات لیدل کیږی ځکه زیاد د همدي مفتیانو د خپلو تجاوز کونکو او اربابانو مخکي ولاړ دي تر څو یو تکه ډوډی ورته واچوي هغه ډوډی چي د د بی ګناه خلکو او ماشومانو په وینو سره ده.**

**«««»»»**

## د دار لرګی

**په ۱۶ د سپتامبر کال ۱۹۳۱م کي د سهار ۹ بجي د چهار شنبي ورځ ایټالیایانو د اعدام حکم د دي مشر مجاهد، د غرونو زمری په بنغازی جنوب د سلوق سیمه کي واورو.**

**ایټالیایانو اصرار کولو چي عمر مختار د خلکو په وړاندي په عام محضر کي اعدام کړي، په همدي سبب یي لوی خلک او د ښار وګړي یي مجبور کړل چي صحني ته حاضر شي د ګراسیاني په برقه آرام کتاب کي لیکلي چي دي مراسمو ته شاخوا شل زره کسان حاضر وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عنيزي له مجاهدينو څخه وو چي د ایټالیایانو په زندان کي وو د عمر مختار د اعدام باره کي لیکي:**

**ډیره وحشتناکه صحنه وه څه وخت چی عمر مختار اعدام کیدلو په ډیر شجاعت یي د شهادت کلیمه ویله او د اعدام په لور ور روان وواو د شهادت کلیمه یي تکرار کوله.**

**د دي لوی سړي څهره د شهادت له مرګ او رضامندي څخه ځلیدله، د عمر مختار له رسیدو سره د دار لرګي ته الوتکي په ډیر کم رتفا سره پروازونه کول تر څو د عمر مختار د خبرو مخه ونیسي چي غږ یي نږدي خلک وا نوري ځکه چي عمر مختار هغه وخت خلکو ته وینا کوله عمر مختار په ډیره آرمتیا سره د دار لرګي ته ور روان وو، چي جلاد د دار پړی کش کړ او هغه یي په شهادت ورسولو،**

**هغه کسان چي نژدی ولاړ وو دا یي اوریدلو وو چي هغه آذان تکرار کولو او آیت یي تلات کولو.**

**د ۸۰ کلونو په تیریدو سربیره د عمر مختار نوم په لیبیا کي څپاند دی، جالبه دا چي نړیځ وال قانون د هغو کسانو چی عمر یي له ۷۰ کلونو پورته وي عفوه کوي یي اما د عمر مختار عمر ۷۳ کاله وو.**

**«««»»»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عمر مختار شخصیت

اعراب په عام طور او مسلمانان په خاص طور په ځانګړي ډول د لیبیا خلک عمر مختار د قهرمان شهید او د صالح رهبر او د سالمي عقیدي نمونه وو، پیژندي او پوهیږی چي خپل ځان او مال يي د دين او هیواد څخه قربان کړل.

موږ نه تسلیمیږو بریالي کیږو یا شهیدان کیږو داپای ندی، باید په کلونو کلونو باندي خپل راتلونکي نسل ته مبارزه وکړو اما زما عمر بدون له شک څخه لوی دی له هغو کسانو چي اعدام کیږي.

دا یوه له مشهورو جملو څخه د عمر مختار ده هغه وخت چي د دي هیواد خلک د معمر قذافي په وړاندي پاڅون وکړ په ژبو یی همدا جمله جاري وه او دا دي ښکارندويي کوي چي د لیبیا خلک تر اوسه هغه په احترام یادوي.

څه وخت چي د انقلاب لومړۍ ځپه په ۱۷ فبوري وويله ټولو وليدل چي مظاهره کوونکو له ځان سره د عمر مختار تصویرونه لیږدول.

وروسته د دکتاتور قزافی د چپه کیدلو وروسته محمد الشريف د محلی شورا ریس د لیبیا انتقالی شورا په خپلو خبرو کي تاکید وکړ چي عمر مختار د هدايت نور دی چي د لیبیا انقلاب له ده څخه الهام واخیست او بریا ته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عمر مختار احترام تنها په لیبیا کي محدود نه وو بلکي په ځانګړي ډول کافی ده چی د سیلویو برلوسکونی د ایتالیا مخکنی لومړي وزیر د عمر مختار سره په لیدو کي خپل سر ټیټ اچولی وو، او د لاس په مچی کولو سره يي د لیبیا په خلکو چي ایټالیایانو کوم وحشت کړی وو ببښنه غوښتله .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صحرا زمري عمر مختار دلچسپ داستانونه

### اول داستان: ای عمره... مبارزه له اشغال کونکو سره کافی دی قرآن مه وایه؛

مجاهد یوسف بورحیل د عمر مختار په حضور کی داخل شو چي عمر مختار د قران کریم په تعلیم مصروف وو، او ورته یی وویل ، مبارزه له ایټالیایانو سره کافی ده تاسو ته ، ولي خپل ځان د ًقران په تدریس ماشومانو ته خسته کوې،

عمر مختار ځواب ورکړ:

زموږ مبارزه د ټوپک جنګ نه بلکي د عقیدي مبارزه ده.

که ایټالیا په موږ واک او تسلط پیدا کړ فقط په دي خاطر دی چي تعالیم د قران مو پریښی دی...

«««»»»

### دوه یم داستان: ای عمره... ولي دومره ژاړي؛

د تاریخ لویان ، د لویو ښځو په ملتیا سره د تاریخ لویان شوي.

د صحرا زمری عمر مختار د خپلي ښځي د مرګ په وخت وژړل، وویل شول ولي ژاړي

عمر مختار وویل: هر کله چي مي غوښتل خیمي ته داخل شم، میرمني مي د خیمي ټوټه پورته کوله، له هغي مي پوښتنه وکړه ولي یي پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي.**
**وي ويل تر څو خپل سر جز له يوه الله ج څخه بل چاته ټيټ نه کړي.**

**رښتيا يي ويلي دی چي د هر لوی سړي شاته، يوه لويه ښځه ولاړه ده، ښځی که وغواړی سړي قدرتمند او سر لوړي کوي.**

**«««»»»**

## دريم داستان: جلاد او عمر مختار؛

**شيخ ابوقتاده وايي: څه وخت چي د خبرو په عنوان د تاريخي لحظي او سرنوشت ساز د انساني مسير په وجود کي سعی او تلاش وکړ، موضوع حقيقی او ريښتيني وي، له دي څخه مهمتر که پوه شوي د نن خبري د چي خپله د د بي تفاوته په ځاي کي وکتلو؛**

**هر وخت د قهرمان عمر مختار دا خبره را په ياد کيږي چي جلاد ته يی وويل:**

**وای په تا که خلکو ته ووايي، عمر مختار مي په پښو او لاسونو را ولويد تر څو وي ببښم**

**دي لوي امام خپل ځای د تاريخ په مسير کي ليد او پوښيدا.**

**«««»»»**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم داستان: موږ اسیران نه وژنو؛

**عمر مختار له مجاهدینو سره د بریتانیا له مشرک فوځ څخه اسیر ونیولو څه وخت چي راغلل، د اسیرانو خوا ته ،**

**یوه ورته وویل دا اسیران ووژنه؛**

**عمر مختار وویل: موږ اسیران نه وژنو؛**

**ورته وویل شول: ولي هغوي موږ وژني؛**

**عمر مختار وویل: هغوي زموږ دښمنان دي نه زموږ ښونکي؛**

«««»»»

## پنځم داستان: وروستی خبري د څه دي؟

**څه وخت چي عمر مختار په زندان کي واچول شو، په محکمه کي برتانیایی قاضي ورته وویل وروستي حبري د څه دي؟**

**ځکه ته د باغیانو مشر يي.**

**هغه وویل تاسو باید زموږ د ورستنیو نسلونو سره هم مخامخ ښني.**

**اما دا چي موږ څنګه ځوانان یو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



«««»»»

## شپږم داستان: عمر مختار او ایټالیایي ځواکونه...

څه وخت چي عمر مختار د ایټآلیایي ځواکونو له لوري څخه ونیول شو، هغوئ نه پوهیدل چي څوک یي نیولی دی، ځکه ایټالیایي ځواکونو د عمر مختار تصویر نه درلود نو نه یي پیژاند.

اما عرب او افریقایئ مزدورانو چي ایټالیایانو ته یی کار کولو او عمر مختار یي پیژندلو د ده هویت یي هغوي د افشا کړ.

د نن ورځي د مسلمانانو قصه هم دقیقا د عمر مختار له قیصي سره مشابه ده، مسلمانان د مخامخ دښمن څخه ضربه نخوري، بلکه له هغو کسانو څخه ضربه خوري چي د دوي په څیر دي او د هغوی په منځ کي ژوند کوي.

د نن ورځي مسلمانان له دي خلکو څخه ضربه خوري چي په موقع پسي ګرځي او موقع لټوي او له شا څخه په مسلمانانو واری کوي.

«««»»»

## اووم داستان: د عمر مختار مناقشه (خبري اتري) له یو طاغوتي افسر سره؛

عمر مختار تقبله الله په ۷۳ کلنئ کي جهاد کولو، او خپل عمر یي د حق په پیژندلو په په هغه د په عمل کولو ته وقف کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بلکه یوه صحنه یي د هغه دلته وایو، څو شیبي له دي د ثبات غر، د ایټالیا د حکومت له لوري نیول د محاکمي په خاطر.**

**دا هغه صحنه ده چي عمر مختار د ایټالیایي افسر له لوري تحقیق ورڅخه کیږي.**

- **آیا له ایټالیایي دولت سره جنګیدلی یي؟**
- **ویی ویل: هو.**
- **آیا خلک د دغه جنګ ته هڅول؟**
- **ویي ویل هو.**
- **آیا د دي کار انجام ته دي فکر کړی؟**
- **ویي ویل هو.**
- **آیا په هغه څه چي وایي یي اقرار کوي؟**
- **ویي ویل هو.**
- **څو کاله کیږي د ایټالیا حکومت پر ضد جنګیږي؟**
- **ویي ویل ١٠ کاله.**
- **آیا په هغه څّه چي کړي د دي پیښیمانه یي؟**
- **ویي ویل نه.**
- **آیا پوهیږي چي ډیر ژر به اعدام شي؟**
- **ویی ویل هو.**

**د محکمي قاضي وویل چي، زه ډیر ناراحت یم چي آخر داسي کیږي.**

**عمر مختار په ډیر اطمینان سره ځواب ورکړ، بلکه دا بهترینه لاره ده چي خپل ژوند ته مي پای ورکوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قاضي کوښښ کوي تر څو عمر مختار ته فریب ورکړي، په همدي اساس د هغه د عفوي حکم لیکي، او ورته وایي پدي شرط ي یلیکم چي د لیبیا مجاهدینو ته ولیکي چي له جهاد څخه لاس واخلي، عمر مختار قاضي ته ګوري او خپله دا تاریخي وینا وایی.:**

**( هغه سبابه ګوته چي په هر لمانځه کي شاهدي وایي چي د الله ج څخه سیوا بل د عبادت لایق نشته او محمد ص د الله ج رسول دی، امکان نلري دا باطله جمله ولیکي )**

**عمر مختار شهید شو اما د استوارو او په حق باندي ثابت قدمو خلکو کي پاتي شو.**

**«««»»»**

**اتم داستان: ایټالیا طیاري لري او موږ...؛**

**عمر مختار رحمه الله ته وویل شول چي د ایټالیا ځواکونه جنګي طیاري لري، او موږ یي نلرو.**

**عمر مختا رځواب ورکړ: طیاري تر عرش لاندي پرواز کوي که تر عرش پورته؟**

**وویل شول: تر عرش لاندي...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عمر مختار وويل: هغه څوک چې تر عرش د پاسه دی، له موږ سره دی... نو له هغه څه چې تر عرش لاندې دي ډار نلرو.**

**«««»»»**

## نهم داستان: دا ګوته هرګز...؛

**څو ورځې وروسته د تاریخي خبرو اترو په ترڅ کې د ګورتسیاني ایټالیایي ژانرال له عمر مختا رسره، قاضي یو لیک ولیکه چې (که خپلو تر لاس لاندې خلکو ته لیک ولیکې چې له جهاد څخه لاس واخلي نو تاته به عفوه اعلان کړو.)**

**او شهید عمر مختار په ځواب کې ولیکل:**

**هغه ګوتې چې په هر لمانځه کې دا شاهدي وايي (لااله الا الله محمد رسول الله) امکان نلري داسې یو باطل لیک ولیکي.**

**«««»»»**

## لسم داستان: له عمر مختار څخه د قاضي پوښتنې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **قاضي: ولي له فاشيستي حکومت سره جنګیږي؟**
- **عمر مختار: له دي امله چي زما دين دا امر کړی دی.**
- **قاضي: آيا کومه ورځ دي دا فکر کړی چي په دي کمو مهماتو به اشغال ګران له هيواد څخه وباسي؟**
- **عمر مختار: هو، ځکه چي دا کار ممکن دی.**
- **قاضي: نو ته په دي باوري يي چي د دي کار توان لري، او موږ له خپل هيواد څخه وباسي؟**
- **عمر مختار: غوښتل مي چي تاسو له خپل هيواد څخه وباسم، د دي لپاره چي تاسو غاصب او ظالمان يي، اما د ظالمانو او غاصبانو شړل په مسلمانانو واجب دي، البته بريا د الله ج له لوري ده. و ما النصر الا من عندالله العزيز الحکيم**

## د عمر مختار رحمه الله طلايي خبري

- **شايد نور فرصت ونلري چي خپل سر د زمري په څير پورته ونيسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د صحرا زمرى: عمر مختار؛ هغه کس چي د ایټالیا د استعمار د اعدام د طناب لاندي يي د غره په څير ولاړ او مقاومت وکړ، وويل: خبر اوسي چي د هيڅ بهاني د اړتيا په صورت کي د باطل او خرافاتو په وړاندي سر ښکته نکړي، شايد دا احتمال مخ ته رانشي، چي د بيا سر پورته کولو لپاره بيا هيڅ موقع پيدا کړي.**
- **خپلو بچيانو ته قرآن کريم ور زده کړي، ځکه چي قرآن کريم هغه څه چي بايد زده يي کړي درته وښايي.**
- **موږ نه تسليم کيږو، بريالي کيږو يا شهيدان کيږو دا کار پای نلري.**
- **الله ج ته آزاد پيدا کړی يي، نو څرنګه چي آزاد پيدا شوی يي آزاد وواوسه، آزاد انسان هغه دی چي فکر يي، عقل يي، عقيده او ځمکه يي په نورو ونه پلوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**